DeKalb County
School District

محترمو والدينو او کورنيو،

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ (DCSD) د کور او ښوونځي ترمنځ روښانه او د لاسرسي وړ اړيکو ته ارزښت ورکوي او ژمنه ده چې ټولې کورنۍ مهمو معلوماتو ته لاسرسی ولري. موږ غواړو تاسو ته د هغه شفاهي ژباړې خدمتونو په اړه معلومات درکړو چې ستاسو د ماشوم/ماشومې په ښوونځي کې شتون لري.

لاندې ژبني خدمتونه شتون لري:

| د شفاهي ژباړې هغه خدمتونه چې د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ لخوا چمتو شوي دي | |
|---|---|
| **د غونډو لپاره د شفاهي ژباړې خدمتونه** | DCSD د غونډو لپاره شفاهي ژباړونکي چمتو کوي. د يوې ټاکل شوې غونډې لپاره د شفاهي ژباړونکي غوښتنه کولو په موخه، مهرباني وکړئ د غونډې څخه مخکې د خپل ماشوم/ماشومې له ښوونځي سره اړيکه ونيسئ ترڅو د شفاهي ژباړې غوښتنه وکړئ. |
| **د DCSD د لاربنود تليفون له لارې د شفاهي ژباړې اسانتيا** | د ښوونځي دفتري کارکوونکي د لنډو، غير مهالوېش شويو يا بيړنيو تليفوني زنګونو لپاره د DCSD لاربنود تليفون (چې د نړيوالو زده کوونکو د سکرينينګ مرکز کې موقعيت لري) ته لاسرسی لري. |
| **د تليفون له لارې شفاهي ژباړه** | DCSD د ELSA Lite کارپال، ELSA Landline او Language Line Solutions کاروي ترڅو له 240 څخه زياتو ژبو کې شفاهي ژباړونکي ته په ژوندۍ بڼه د تليفون له لارې لاسرسی چمتو کړي. |
| **يو طرفه شفاهي ژباړه/ تليفوني زنګونه** | که چېرې يو ښوونکی يا د ښوونځي کوم دفتري کارکوونکی اړتيا ولري چې تاسو سره د لنډو يا غير ټاکل شويو معلوماتو د رسولو لپاره اړيکه ونيسي نو دوی کولی شي د يوه شفاهي ژباړونکي غوښتنه وکړي ترڅو کور سره د تليفوني اړيکې نيولو په برخه کې مرسته وکړي. |
| **له ښوونکي سره اړيکه** | ښوونکي ډيری داسې کاريالونه کاروي چې له والدينو او کورنيو سره ورځنۍ اړيکې چمتو کوي. ډېری له دغو کاريالونو څخه د ژباړل شويو پيغامونو د لېږلو اسانتيا برابروي. مهرباني وکړئ د لا زياتو معلوماتو لپاره د خپل ماشوم/ماشومې له ښوونکي سره اړيکه ونيسئ. |

موږ باور لرو چې اغېزمن ارتباط ستاسو د ماشوم/ماشومې د بريا کيلي ده او تاسو هڅوو چې دا خدمتونو په کار واچوئ ترڅو دا يقيني کړئ چې د خپل ماشوم/ماشومې د زده کړو په اړه بشپړ معلومات لرئ.

که چيرې تاسو د ښوونځي له امکاناتو پرته اضافي مرستې/لارښوونې ته اړتيا لرئ نو مهرباني وکړئ د انګليسي ژبې زده کوونکو څانګې سره په **(678) 676-6602** اړيکه ونيسئ.

***مهرباني وکړئ لاندې کارت پرې کړئ او د خپل ماشوم/ماشومې ښوونځي ته يې راوړئ ترڅو د شفاهي ژباړونکي غوښتنه وکړئ:***

---

DeKalb County
School District

**LANGUAGE ASSISTANCE NEEDED**

***English Learners Department***

**HELLO!** I am a parent/guardian of a DeKalb County School District student and I speak ______________________.
I need assistance in my native language.

**PARENTS OR STAFF:** If you have any questions, please call the Interpretation and Translation Unit at **678-676-6602.**